SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

څلورم کال ځلوېښتمه گڼه پرله پسې (۲۳۰) یکشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال د صفر المظفر (۲۲)د۱۳۷۸هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتې(۱٦)د۱۹۹۹میلادي کال د جون (٦)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عـدل) ډېرنږدې دی تقوا(پرهیزگـاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د C.C.C کمپنۍ په افغانستان کې د عملي کار لپاره لاري چاري لټوي

د کانو او صنایعو وزارت سرپرست الحاج مولوي احمد جان

مونږ به تر ټولو لومړني شرکت یو چې دلته به عملاً کار پیل کړو

د افغانستان امنیتي حالات ډېر ښه دي، د افغانانو له میلمه پالنې خوښ یو، ډېر اخلاص ورته لرو

د C.C.C کمپنۍ هیئت

محترمو لوستونکو! تاسي خبر یاست چې په دي وروستیو کې د C.C.C نړیوالي کمپنۍ هیئت کابل ته راغلی وو او دلته یې د کانو او صنایعو د وزارت له مسؤولینو سره د هرات ، جوزجان او سرپل په ولایتونو کې د گازو او نفتو کانونه او ځاگانې ولیدلې زموږ خبریال کابل ته ددې ډلې د راتللو د اهدافو ، لاسته راوړنو او د افغانستان د کانونو د دوی د لیدلو د نتایجو په هکله له دې هیئت او د کانو او صنایعو له وزیر محترم الحاج مولوي احمد جان ته معلومات غوښتي دي چې دلته یې ستاسو حضور ته وړاندي کوو .

۲ مخ

فرمان عالیقدر امیر المؤمنین در رابطه به عشر و زکوة و حق العبور شاهرا ها

شریعت : به اساس احکام جداگانه عالیقدر امیر المؤمنین ریاست عمومي عشر و زکوة و حق العبور شاهراه هاي کشور در چوکات وزارت مالیه تنظیم گردیده اند.

خبرنگار هفته نامه شریعت خبر داد : به اساس احکام عالیقدر امیر المؤمنین که به خاطر تنظیم بهتر امور مالیاتي در چوکات یك مرجع واحد اصدار یافته است ریاست عمومي عشر و زکوة از چوکات وزارت حج و اوقاف و تمامي حق العبور شاهراه هاي کشور ازچوکات وزارت فوايد عامه مجزا و در تشکیل سال ۱٤۲۰ وزارت مالیه مدغم گردیده است تا در چوکات این وزارت اجراآت و امور روزمره خویشرا طبق مقررات و قانون به پیش ببرند.

د سرپرستي شورا محترم مرستیال د بامیانو پوځي مسؤولینو ته په خطاب کې :

د اسلامي امارت چارواکي پرته له کوم تبعیض او امتیاز څخه د بامیانو د خلکو په خدمت کې دي

په بامیانو کې د اسلامي امارت کارکوونکي باید د خلکو د ستونزو د لري کولو په خاطر له هیڅ راز سر ښندنې څخه ډډه ونه کړي

هیواد ته خاینې ډلې په بشپړه تجرید کې شپې سبا کوي

د سرپرستي شورا مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر پرون له غرمې مخکې د خپل کار په دفتر کې محترم قوماندان حاجي محمد نعیم کوچي او محترم قوماندان بشیر خان د کتنې لپاره خپل حضور ته ومنل.

د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي اژانس ته خبر ورکړ د کتنې په پیل کې دغو قوماندانانو چې د بامیانو په ولایت کې نظامي دندې په غاړه لري په دغه ولایت کې بې امنیتي حالت د ډاډ وړ وباله او وې ویل : د بامیانو ولایت دیندار خلك د خوشحالي احساس کوي چې د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو د میړانې او سرښندنې په برکت د ملیشو او د اسلام د دښمنانو له ظلمونو نه خلاص شویدي . اماراتي کار کوونکي شپه او ورځ د خلکو په خدمت کې دي او له هغوي سره له هیڅ راز مرستې او همکاري نه ډډه نه کوي.

وروسته د سرپرستي شورا محترم مرستیال د خپلو خبرو په ترځ کې وویل د ډېري خوشحالي ځاي دي چې د بامیانو ولایت مسلمان خلك د بشپړي سولې او امنیت په فضا کې ژوند کوي د اسلامي امارت چارواکي د تبعیض او امتیاز له یو پام کې نیولو پرته د بامیانو ولایت د مسلمانو خلکو په خدمت کې دي او د هغوي د ستونزو او مشکلاتو د لري کولو په لاره کې هره شېبه تیاري لري .

ده زیاته کړه واقعیت دا دي چې د بامیانو دیندار خلك د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو په دفاع کې دي او په همدې علت دي چې هیواد ته خاینې

٤ مخ

امارت اسلامي افغانستان در نابودي مواد مخدر همکاري همه جانبه دارد

نیوبارك: اداره کنترول مواد مخدر سازمان ملل متحد اقدامات طالبان در جلوگیري این مواد بخصوص کوکنار و افین را مثبت و مثمر خواند .

برنات فرایي مسؤول این اداره گفت که I.I.I در این مینه همکاري همه جانبه کرده ولي نابودي مواد وقت کافي را در بر مي گیرد.

وي افزود که لابراتوار هاي تولید مواد مخدر در ننگرهار از بین رفته است .

هشت تن از اسیران امارت اسلامي با هفت تن اسیران مخالفین تبادله گـردیدند

هشت تن از اسـیران امارت اسلامي که در زندان هاي مخالفین زنداني بودند دیروز از طریق کمیته آي.سي.آر.سي با هفت تن از اسراي مخالفین تبادله گردیدند .

آژانس اطلاعاتي باختر

ص ٤

قرار است در آینده نزدیك به کار عملي آغاز نمائیم

رئیس هیئت کمپني C.C.C

محترم الحاج مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنایع قبل از ظهر دیروز با هیأت کمپني C.C.C کشور یونان ملاقات نمود.

خبرنگار هفته نامه شریعت خبرداد : در این ملاقات روي موضوعات مورد علاقه به خصوص استخراج پطرول در شبرغان و هرات بحث و تبادل نظر صورت گرفت هیأت مذکور در این ملاقات در رابطه به نتایج آگاهي ها و

ص ٤

اهالي متدین ولسوالي یکاولنگ با ختم قرآن عظیم الشان خواهان صلح سراسري در کشور گردیدند

موسفیدان ، قوماندانان و اهالي ولسوالي یکاولنگ ولایت بامیان با به راه انداختن ختم قرآن عظیم الشان از خداوند بزرگ خواهان تأمین صلح سراسري در کشور گردیدند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در این محفل ختم قرآن

ص ٤

جریان برق در ساحه بولان ولایت هلمند تامین گردید

شریعت : با فعالیت دو باره یك پایه ترانسفارمر جریان برق در ساحه بولان لشکرگاه مرکز ولایت هلمند دو باره تأمین گردید .

خبرنگار هفته نامه شریعت خبر داد : وزارت آب و برق به سلسله احیاء و باز سازي تأسیسات و شبکه هاي برق در مرکز کشور مصمم است تا سیستم ها و شبکه هاي برق را در ولایات کشور نیز احیاء و توسعه دهد چنانچه بالاثر کار و

ص ٤

اعمار مجدد تعمیر ریاست موتر دار به پایه اکمال رسید

شریعت : تعمیر ریاست موتر دار که در پهلوي مقر ریاست تصدي ملي بس در کنار جنوبي دریاي کابل موقعیت دارد و در نتیجه جنگهاي رژیم انتلافي رباني شدیداً خساره مند گردیده بود در پرتو پالیسي هاي وطندوستانه امارت اسلامي افغانستان و تلاش مسؤولین مربوط دو باره ترمیم و رنگ آمیزي گردیده و زیبایي قبلي خویش را دریافت نموده، خبرنگار ما مي افزاید: تعمیر ریاست موتر و دیپو هاي

ص ٤

کار اعمار پارك تزئیني چار راهي مکروریان ادامه دارد

شریعت : کار اعمار پارك تزئیني و تفریحي چار راهي مکروریان بسرعت ادا مه دارد. خبرنگار ما طي گزارشي از ساحه مذکور مي افزاید. کار اعمار پارك تزئیني و تفریحي چارراهي مکروریان که شامل حوض نمایشي، فواره هاي آب ، چمن زار هاي طبیعي و گل-کاري ساحه مذکور مي باشد و چندي قبل از جانب دستگاه ساختماني شاروالي کابل آغاز گردیده بود با پیشرفت شصت هفتاد فیصد هم اکنون نیز جریان دارد در ساختار این تفرجگاه و ساحه تزئیني سهم مسؤولین محترم ترافیك نیز قابل ستایش مي باشد با اکمال کار ساختمان این پروژه چار راهي مکروریان زیبایي قبلي

ص ٤

مصمم هستیم تا عنقریب بطور جدي به فعالیت هاي عملي خویش اغاز نماییم

محترم مولوي محمد نعیم غفوري

محترم مولوي محمد نعیم غفوري معاون مالي و اداري ریاست عمومي خدمات انجنیري و مشورتي وزارت آب و برق در باره فعالیت هاي شان چنین ابراز نظر نمودند : موسسه خدمات انجنیري و مشورتي بعد از پیروزي امارت اسلامي

ص ٤

چهار ماشین اره کشي سنگ در فابریکه مرمر و رخام به فعالیت آغاز نمود

به ادامه فعال شدن بخش هاي مختلف فابریکه مرمر و رخام در ساحه پلچرخي دیروز چهار ماشین اره کشي سنگ در این فابریکه به فعالیت آغاز نمود .

در محفلیکه به همین مناسبت تدویر یافته بود محترم الحاج مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنایع در رابطه به احیاء و باز سازي فابریکات صنعتي در کشور صحبت نموده فعال شدن دو باره ماشین هاي اره کشي را در تصدي انتفاعي مرمر و رخام که بالأثر تلاش هاي مسؤولین و انجنیران فابریکه بعمل آمده گام ارزنده و مؤثر خواند.

یك منبع مربوط گفت ۱٤ پایه

ص ٤

د افغاني سري میاشتې له تولنې سره د ښځه لاري موټرو مرسته وشوه

د آي.سي.آر.سي کمیټې پرون اړو کسانو ته د بشري مرستو د رسولو په مقصد د افغاني سري میاشتې له عالي ټولنې سره د پنځه لاریو موټرو

٤ مخ

ما په افغانستان کې هیڅ داسي څه ونه لیدل چې فکر وکړم له ښځو سره به بده رویه کیږي

زه غواړم چې د کابل له طب پوهنځي سره مرسته وکړم

داکتره جون کاگین

قدرمنو لوستونکو ! تاسي به خبریاست چې څو ورځې وړاندي د امریکا د لوسالیندا پوهنتون یو هیئت کابل ته راغلی ؤ په دي هیئت کې د نوموړي پوهنتون یوه ښځینه استاذه داکتره جون کاگین هم شامله وه نوموړي د خپل دې سفر په هکله له امریکا غږ سره یوه مرکه کړي چې غټ ټکي یې تاسي ته وړاندي کوو :

داکتره کاگین په افغانستان کې د ښځو د حقوقو په هکله وایي : ما ډېر اسلامي هیوادونه لیدلي دي او په سعودي

٤مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ایا د (۲+٦) راتلونکې غونډې ته د بریالیتوب تمه شته ؟

د افغانستان گاونډیو (٦) هیوادونو غوغ اکثریت (له ایران او تاجکستان څخه پرته) اوس په دي واقعیت پوه شوي دي او اعتراف کوي چې د افغانستان د اسلامي امارت تایید او ملاتړ هم د افغانانو او هم د سیمي په گټه دي، له دي امله د (۲+٦) پروسي ته چنداني تمه نه لري مـازې د (...+۲) هیـوادونو (امریکي او روس) په هڅو نه یې په خوله یادوي که نه، په دي پوهیدلي دي چې دغه پروسه د سولي نه بلکي د افغانستان د اسلامي امارت له پاره د یو ځنډ په توگه په کار اچول

۲ مخ

به سلسله مسابقات والیبال مدارس شهر کابل :

تیم والیبال مدارس نادریه و محمود طرزي بر حریفان غالب آمدند

تورنمنت مسابقات بهاري والیبال مدارس شهر کابل در جمنازیوم مدرسه اماني ادامه دارد. در مسابقات جالبي که دیروز در برابر جمع کثیري از تماشاچیان و علاقمندان ورزش بین تیم هاي مختلف والیبال مدارس شهر کابل صورت گرفت تیم والیبال مدرسه نادریه بر تیم مدرسه دارالایتام، تیم مدرسه محمود طرزي بر تیم دارالایتام و تیم مدرسه نادریه بر تیم والیبال مدرسه غازي غالب شناخته شدند.

از طرف وزارت شهداء و مهاجرین :

براي هفتاد تن معیوبین بایسکل توزیع گردید

براي هفتاد نفر معلول در نواحي مختلف شهر کابل دیروز از طریق وزارت شهداء و مهاجرین بایسکل توزیع گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به اساس پروتوکول عقد شده بین وزارت شهداء و مهاجرین و مؤسسه شلتر نو انترنشنل به تعداد هفتاد عراده بایسکل که بمنظور سهولت براي معلولین از طرف مؤسسه متذکره کمك گردیده بود دیروز از طریق وزارت شهدا و مهاجرین براي هفتاد نفر معلول در نواحي مختلف شهر کابل توزیع گردید.

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پېښور کي : دطالبانو نمایندګی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

شوي دي،

پاتي شوه د ایران او تاجکستان خبره : تاجکستان خو کیداي شي چي د نورو ګاونډیانو په څیر په دغه واقعیت پوره شوي وي چي د افغانستان اسلامي امارت اوس یو داسي حقیقت دي چي نه انکار ورڅخه کیداي شي او نه یې مخالفت د تاجکستان د خلکو په ګټه دي خو د داخلي مجبوریتونو له مخي چي دولت یې په ولس کي کلك بنسټ نه لري ځان د روس حمایت او پام لرني ته اړوېني نو ځکه د روس له قوماندې سره سم یې د اسلامي امارت د مخ په زوال مخالفینو لپاره د خپل کورغولي د لوبو ډګر جوړ کړي او هر څه یې په واك کي ورکړي دي او هم د روس له خوښي سره سم د (٦+۲) له غونډې سره دلچسپي ښکاره کوي .

او د ایران د اوسني ولس مشر محمد خاتمي له تګلاري نه داسي څرګندېږي چي هغه اوس غواړي ایران په سیمه او نړۍ کي د انزوا او عامي کرکي له حالت نه راوباسي او د سم سمکي په لوري یې وخوځوي، خاتمي که څه هم تر اوسه پوري د افغانستان په هکله د محافظه کارانو نا معقوله او له دښمنیو ډکه تګلاره خپلي مخي ته پرې ایښې ده، سره له دي چي د ایران د خلکو لپاره ددغي تګلاري په ضررونو به هرو مرو پوهیدلي وي مګر بیاهم هم تر اوسه پوري بدله کړي نه ده او یاهم وس نه دي رسیدلي چي بدله یې کړي د کتونکو دا باور دي چي خاتمي به د ایران ولس ته ددغي بي سنجشه تګلاري هره ورځ ناکامتیاوي او د ایران د اسلامي حیثیت او اقتصاد د تباهي جوته کول مطلب وي؛

اوس چي د اسلامي امارت ایران پلوي مخالفین له صحني نه یو مخ د جارو کولو په حالت کي دي او د ایران لپاره یې د ملیاردونو دالرو نغدي او پوځي مرستو سره سره له شرم ، رسوایي او اقتصادي تباهي نه پرته هیڅ لاس ته نه راوړل ، کیداي شي د ایران د خلکو په وړاندي دغه تګلاره له پخوا نه زیاته محکومه او غندل شوي وي؛

د ایران د خلکو هغه په ملیاردونو دالرو ولسي پانګه چي د بروجردي او دده ښکته پورته ملګرو بانکي زیرمو ته ولیږدوله شوه او څه هم دوستم، محقق او ورته څېرو مجللو ماڼیو او جیبونو خوراك شوه کیداي شي خاتمي ته دا سند او پلمه په لاس ورکړي چي د پخواني رژیم هغه نا معقوله او تباه کوونکي تګلاره په مزکه و ولي او د ایران د ګټو، سیمي د استقرار اوښه ګاونډیتوب نوي معقوله تګلاره را منځ ته کړي تر څو وکولاي شي د ایران د خلکو زیرمي د ملي، خاینانو او بي ګټې مزدورانو له پرغل نه وژغوري او په سیمه کي د ایران بایللي حیثیت په ځاي کړي ؛

که خاتمي ددغه مقصد په لوري خوځښت پیل کړي وي اویایي پیل کړي نو کیداي شي د (٦+۲) غونډه دده په وړاندي هم ارزښت ونه لري ؛

د ازبکستان د بهرنیو چارو د وزیر کاملوف کندهار ته سفر او د اسلامي امارت له مشرانو سره کتني لپاره د (٦+۲) غونډې ته بلنه یوه پلمه وه، د دواړو خواوو تر منځ د خپل منځي اړیکو د ټینګولو، د دواړو هیوادونو ګټې، د ښه ګاونډیتوب او د سیمي د ښېرازي په هکله خبري ډیري تودي او په ښه تلوسه وي، ددغو خبرو په پام کي نیولو سره د (٦+۲) راتلونکي احتمالي غونډه که جوړه هم شي د غړو هیوادونو د دلچسپي توکي نه پکي لیدل کیږي بوازي هغه یو څو تکرار شوي (روایتي) خبري به سره غبرګي شي او نور به هر څوك پخپله مخه ځي؛

هوا که چیري د غونډې غړي په ګډه سره د افغانستان اسلامي امارت ته د افغانستان د واکمن حکومت په توګه بلنه ورکړي که څه هم دا به د دوي په وړاندي یو ممنوع کار وي مګر په حقیقت کي به د کړاو او تشویشونو د له منځه وړلو او په سیمه کي د سولي او ثبات په لوري لومړني او بنسټیز ګام وي، هغه ګاونډیان او نور خیر خواه هیوادونه چي د زړه له کومي په سیمه کي سوله او ثبات غواړي دا خبره به دسیمي لپاره زیري وګڼي، د افغانستان د اسلامي امارت د پلاوي رسمي ګډون به غونډه له نویو واقعیتونو سره اشنا کړي او غونډه به د موثریت او افادیت نوي رنګ واخلي.

زن و حجاب

سیمین «خطاب عمر» از لاس انجلس امریکا

نکته دیگري که خیلي مایه امیدواري ما و سبب تشویش و علت تخریب دشمنان اسلام شده است افزایش و ظهور زنان تازه به اسلام شرف یافته است که الحمد لله نهایت با تقوي ، دانش اسلامي و پا بندي و ترس خدا«ج» و محبت اسلام در هر مسجد و مراکز اسلامي و دفاتر و خانه هایشان مشعل بردار اسلام شده و در هر محفل کنفرانس ها و نوشتن کتاب ها و رساله ها و ترجمه کتب و تدریس مکاتب اسلامي و پیشبرد سازمان هاي اسلامي و تشکیل خانواده هاي سالم اسلامي در فعالیت شباروزي هستند و این خواهراني که یك زمان با لباس آب بازي کنار بحر مي رفتند و در محافل و کلپ هاي رقص و پایکوبي و حتي شراب نوشي اشتراك داشته اند و از همه آزادي ها برخوردار بوده اند پس از انتخاب اسلام و تسلیمي به حق و بیان توحید روي همه خواسته هاي نفسي پا گذاشته و قدمهاي خدیجه کبري، عایشه صدیقه و فاطمه زهرا«رض» و دیگر زنان پیش قدم اسلام را دنبال میکنند. از حجاب ظاهري تا حجاب چشم و حجاب زبان و رفتار و گفتار همه شکوهمندي خود را دریافته و خار چشم جامعه نا پاك و آلوده يي هستند که در آن پرورش یافته و راه غلط زیستن و بازیچه دیزاینر بودن و لعبتك محفل و شکار چشم ناپاك بودن را گذاشته و خودش را چون مروارید میان صدف پیچیده است

آیا پوشیدن چادري زن افغان چنان با اهمیت و مورد تشویش زنان آزادي خواه است که سخن به قصر سفید کشیده شود و یا اینکه آوازه تشکیل حکومت اسلامي و تأسیس سازمان هاي اسلامي در دنیا لرزه بر اندام دشمن بهانه گیر شده تا به جماعت بي خبر با پخش و نشر تماشاي اخبار نادرست وحشت حجاب را در تحت قوانین اسلامي پیش کشند تا کسي علاقمند شده و آنانیکه اسلام را فقط میراث برده اند و از آن آگاهي ندارند و خرافات کلچري را هم بنام اسلام شناخته اند فاصله بیشتر بگیرند و بسوي دنیاي پر زرق و برق و آزاد آزاد که انسان را به حیوانیت مي کشاند بکشانند. آرزوي من از زن افغان مسلمان پا فشاري در تعلیم دین و آموختن راه درست زیستن و نجات خود و خانواده و وطن است که او اولین معلم است و خانه مکتب. هرگاه زن از دانش اسلامي محروم گردد دیگر خلاف خلقت و خواست پروردگار است که جامعه از فساد و تباهي نجات یابد زن با درك قوانین الهي«ج» در خانه حکم میکند امر بالمعروف و نهي از منکر در خانه آغاز مي شود آشنایي با قوانین قرآن زن را جرئت تربیت درست اولاد، احترام به حقوق شوهر و عزت نفس مي دهد و هرقدم رضاي خدا را خواسته دانشمندانه به پیش مي رود مي داند که ذره ذره اعمال او خدمت اولاد و شوهر و اقارب، صبر و استقامت سازگاري و کار و منزل و شب زنده داري و نظافت اولاد و تعلیم و تربیتش زیر نظر خالق حسیب بي مجرا نبوده و حتي وعده اجرت جهاد به او داده شده است . دیگر با تعلیم احتیاج به سرزنش به پوشیدن و محجوب بودن ندارد خودش فرمان بردار فرمان خدایش بوده و میداند راه نجات کدام است . که امیدوارم و دست دعایم بلند است تا زن افغان حق تحصیل و آموختن را که او را به خدایش میرساند و جامعه نجات مي یابد به زودي برایش مهیا گردد. واز تبلیغات نادرست که هر نارسایي و مشکلات اجتماعي ما را که نتیجه جنگ طولاني در وطن بوده است بنام اسلام عزیز قلمداد ساخته و آفتاب درخشان اسلام را بگذارند بر جهان تاریك متمدن امروز بتابد و روح سرگردان آدمهاي روي زمین در قالب قوانین الهي آرام بگیرد.

در اخیر پیام به خواهران با عقیده و برادران مسلمانم اینست که فراموش نکنیم پدر ما آدم «ع» و مادر ما حواء در مقابل نا- فرماني که انجام دادند و فریب شیطان را خوردند بي حجاب و بي ستر شدند که این خود نشان میدهد انسان هر قدر از راه راست منحرف و در گناه آلوده گردد بي حجاب تر و بي اعتناء به ارزش هاي انساني و مقام عالي «تقوي» میگردد و در دنیاي بزرگي که ما از آن خبر داریم انسانهاي هر گوشه و کنارش در پوشیدن شرمگاه و بدن خود پارچه دریافته تا عزت انساني خود را نگهدارد و تنها حیوانات اند که از این قیودات معاف هستند. و چه تأثر آور و شرم آور است که امروز در دنیاي غرب و جهان غیر- اسلامي برخي از انسانها با نعره هاي آزادي به طرف حیوانیت و بي تفاوتي ها در حرکت اند.

سلام بر خواهران با تقوي که باطن پاك و عقیده راسخ و قدرت دروني شان را با ظاهر پوشیده و یونیفورم اسلامي به جهانیان با افتخار و سر بلند ثابت مي سازند .

د شیخ الحدیث محترم مولوي محمد عبدالقدوس صاحبزاده صاحب ژوند ته لنډه کتنه

شیخ محمد عبدالقدوس جان صاحب د ټولو استاد مرحوم شیخ مولوي محمد نبي صاحب چي په لالا صاحب شهرت لري زوي او د محترم مرحوم مولوي عبدلحنان صاحب لمسي دي. د موسهي په دره کي یې دنیا ته سترګي پرانستي دي او لومړي زده کړي یې له خپل پلار او نیکه څخه کړي دي د علم لوړ فیوضات یې له مشهور عالم مولوي عبدالمنان صاحب تګابي څخه حاصل کړي دي د احادیثو دوره یې له محترم مولوي سلطان جان صاحب څخه سرته رسولي ده . له فراغت څخه وروسته یې سمدستي په تدریس پیل کړي دي د تدریس په دوران کي یې له مولوي محمد دین صاحب سره چي د څرخ په مولوي صاحب شهرت لري ملګري شوي دي او د شیخ نصیر الدین صاحب چي د غرغښتو په مولانا شهرت لري په مرسته یې د طریقت او تصوف خواته مخه کړي چي د ښه کوشش په کولو سره یې په خپله طریقه کي د خلافت مقام ګټلي دي او ډیر مسلمانان د شیخ صاحب له فیوضاتو څخه برخمن شوي دي.

شیخ صاحب د خپل ژوند په اوږدو کي اسلام ته د قلم په واسطه هم ډیر خدمتونه کړي دي چي له هغو څخه په لاندي توګه یادونه کوو : الفوز الکبیر بالتوسل بالنبي البشیر، مجموعة الرسایل الرسایل السدیده في المسایل العدیده، اللف العالیه والنشر الغالیه، مناسك الحج، الحاشیه علي الشافیه الحاشیه علي مسلم الثبوت، مقدمة البیضاوي والحاشیة ، الحاشیه علي المطول، الحاشیه علي القاضي محمد مبارك ...

شیخ صاحب له ډیرپخوا څخه اسلامي مبارزه پیل کړي وه او د ۱۳۵۷ کال د کمونستانو له کودتا څخه وروسته یې په عملي جهاد پیل وکړ له څه مودي وروسته یې د مجاهدینو په ټینګار پېښور ته هجرت وکړ او هلته یې د طالبانو په روزنه پیل وکړ څه وخت چي د طالبانو اسلامي تحریك پیل شو په لومړي سر کي یې پیوستون ورسره اعلان کړ . شیخ صاحب د ژوند په اخیرو وختو کي خپل مشر زوي مولوي عبدالمالك د ځان خلیفه وټاکه . او د ۱٤۲۰/۲/۱۲-۱۳۷۸/۳/٦ د پنجشنبي په ورځ یې له فاني دنیا څخه سترګي پټي کړي او د موسهي په دره کښي د عبدالروف د کلي په هدیره کښي خاورو ته وسپارل شو .

روح یې ښاد او یاد یې تل .

د C.C.C کمپنۍ په افغانستان کي د عملي کار...

په پیل کي مو ددي ډلي له یو تن غړي نه چي په عربي ژبه یې خبري کولي وغوښتل چي د C.C.C کمپني راته په لنډه توګه راوپېژني هغه زموږ د غوښتني په ځواب کي داسي وویل: دا شرکت له تن نه پنځوس کاله وړاندي تأسیس شویدي او د «شرکة اتحاد المقاولین العالمیة» په نوم یادیږي مرکز یې په یونان کي دي او دا لومړني شرکت دي چي د عربي نړۍ په کچ تأسیس شویدي چي په عربي نړۍ او منځني ختیځ ، امریکا، افریقا ، اسیا او اروپا کي کار کوي د کار ساحه یې ډیره پراخه ده خو اوس په افغانستان کي په خپلي پانګي بوازي د ګازو او نفتو په ساحه کي کار کوي.

کله مو چي له دوي وپوښتل چي په افغانستان کي مو کوم کانونه ولیدل او برداشت مو څه دي؟ نو وېي ویل چي موږ د جوزجان او سر پل د نفتو او ګازو ځاګاني او په هرات کي د ګازو او نفتو ساحه له نږدي وکتله هلته مو ډیر ښه کانونه ومونډل. د شبرغان او سرپل نفت او ګاز ډیر لوړ ارزښت لري موږ اوس د شبرغان او سر پل د ګازو او نفتو د راویستلو او صافولو لپاره عملي لاري چاري لټوو، دي هیأت وویل چي کومي ساحي چي موږ په هرات کي ولیدلي او سروې مو وکړه نو ډیره امیدواري ده چي هلته به د پطرولو کان وي.

له دوي مو وپوښتل چي عملي کار به کله پیل کوي؟ نو وېي ویل چي موږ خو اوس بوازي د معلوماتو د راټولولو لپاره راغلي یو او دعملي کار د پیل پلان نه لرو خو دلته مو چي حالات ولیدل نو دا واړه درکوم چي موږ به له ټولو لومړني شرکت یو چي دلته به عملاً کار پیل کړو ده وویل چي زموږ معلومات ډیر په زړه پوري دي او دلته د کار لپاره زمینه ډیره ښه برابره ده زه هیله مندیم چي په همدي روان کال کي به عملي کار پیل کړو ځکه چي د افغانستان ګټه زموږ د شرکت ګټه ده .

دي ډلي ددي پوښتني په ځواب کي چي په افغانستان کي امنیتي حالات څه ډول ارزیابي کوئ ؟ وویل چي په افغانستان کي دومره امنیت حاکم دي چي موږ یې تصور هم نه درلود، د کار زمینه برابره ده او حالات له هر پلوه ښه دي.

نوموړي ډلي ددي پوښتني په ځواب کي چي د خپل پنځه ورځني سفر په موده کي مو د افغانانو عنعنات او کلتور څه ډول ومونډ ؟ داسي وویل د افغانستان هر شي ښکلي دي، ټول افغانستان ښکلي دي، افغانان په فطري ډول غیرتمند او با شهامته دي موږ د دوي له میلمه پالنې نه ډیر خوښ یو، زموږ ډیر قدر یې وکړ به دوبه سترګه یې راته وکتل موږ دوي ته اخلاص لرو او له دوي سره مینه کوو .

کله مو چي له دوي وپوښتل چي ایا سیاسي ځنډونه خو به ستاسي د کار د مخنیوي لامل نه شي؟ دوي وویل چي موږ یو تجارتي شرکت یو له سیاست سره کار نه لرو او نه به د سیاست او سیاست مدارانو تر تاثیر لاندي راشو .

هدا راز زموږ خبریال په دي اړه د کانو او صنایعو له وزیر محترم الحاج مولوي احمد جان سره هم تماس نیولي دي او له هغوي نه یې پوښتلي دي چي ددي هیئت د ساحي د لیدلو او د برداشت جریان له نورو هیئتونو سره څنګه پرتله کوي ؟ او آیا د عملي کار لپاره څه هیله مندي لري ؟ نو د کانو او صنایعو د وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي احمد جان داسي وویل : دوي د نورو هیئتونو په پرتله د کار لپاره ډیر چټو والی څرګند کړ . د عملي کار د پیل لپاره یې لاري چاري لټولي، په افغانستان کي له حالاتو نه ډیر راضي وو ، ساحي او د کار امکانات یې په خپلو سترګو ولیدل، زما د برداشت له مخي دوي په افغانستان کي د کار لپاره ډیره دلچسپي درلوده. په دي کوښښ کي وو چي د کار هغه وسایط چي دلته نه مندل کیږي له بهر نه وارد کړي او څه چي دلته موندل کیږي هغه هم ترمیم او کارته چمتو کړي .

د غره پر څوکه

(ا.ت)

ما پخوا اوریدلي وو چې د لوړو خلکو لوړ فکرونه وي نو زما د ډېره وخته دا ارمان په زړه کي وو چې زه لوړ شم او زما فکر هم لوړ شي نو پخپل زړه کي مې دا سره جوړه کړه چې یوه ورځ به غره ته خیژم چې تر ټولو خلکو لوړ شم. لمر لا خپله رڼا په ځمکه نه وه پاشلي د شبنمو اوښکي هم د گل پر مخ پرتې وي چې زه د غره وخواته رهي شوم غره د سهار په وخت کي یو عجیب منظر درلود، د سحر د بلبلو شور د غره په سر کي بیل خوند کاوه.

د اوږدې تګران سره، سره شوه د لمر ترېو شغلو د غره پر سر باندي د لمر ختو اعلان وکړ، لمر راوخوت خلك د کورو څخه راوتل په خپلو ځمکو کي په خواري اخته کیدل. زه د غره لمني ته راغلم د غره د سر سره یا تر هغه لا هم لوړ په هوا کي مرغان گرځي که بې حرکت نه کولاي تا به ویلاي چې تور ټکي دي، زما ډېره غبطه ورسره کیده چې که دغونه سړي لوړ شي نو به بې فکر څونه لوړېږي کاشکي زه دغو نه لوړ شم.

اوس زما په مخ کي غر دي او دا هم معلومه ده چې پر لوړه ختل څونه زور غواړي مگر هر آن نوي هوا او گړي په گړي د طبیعت په غیږ ننوتل او له یوه پیچومي څخه و بل ته ختل زما ستړیا راڅخه وړي لاندي چې وگورم هغه ژوري شیلي هغه د غره سمي او کړې چې تر اوسه بې بیله قدرت څخه بل د تربیت لاس نه دي لیدلي یو عجیب منظر راته جوړوي زه چې هر څو لوړ شم سترگي مې لا هم په ډېرو شیانو احاطه کوي او طبیعي ده چې هر څه چې منظر پراخیږي زړه هم هغومره ورسره خلاصیږي د غره سر لانه دي لیکن ورته را نیژدي یم. دلته هغه لوي مرغان چې اول وماته لکه تور ټکي داسي ښکاریدل پر ډېرو ناست دي. د هر یوه یو، یو هم په منگولو کي دي دا هغه ټپوسان او باښې دي چې پر مردارو را ټول وه هر یوه خپله برخه راوړي دلته بې دغره پر سر په بیغمي خوري.

سبحان الله لکه چې حس تیروزي خو عقل هم دغسې خطا کیږي زما خو اول دا خیال وو چې سړي دغونه لوړ شي بیا به په دغسې مردارو پسي نه گرځي او اوس دا دي په سترگو وینم چې د غره په سر ودریدم هري خواته مې وکتل هغه خلکو چې په کښتو او ځمکو کي بې کارونه کول دونه نوکي راته ښکاریږي دا هغه لوي لوي سړي دي چې ما لیدلي وه خپل کارونه یې کول اوس نو هر څه دونه کوچني راته ښکاریږي دا په دي چه زه لوړ شوم ؟ هلته د غره پر سر باندي خداي«ج» ته په سجده شوم چې خدایه ! ما د داسي لوړوالي څخه وساتي چې ستا مخلوق به کوچني راته ښکاریږي.

گل و بلبل

حافظ

صبحدم مرغ چمن با گل نو خاسته گفت
ناز کم کن که درین باغ بسي چون تو شکفت
گل بخندید که از راست نرنجیم ولي
هیچ عاشق سخن تلخ بمعشوق نگفت

نمودن نیک و بد

جمال الدین

گر شرم همي ز آن و این باید داشت
پس عیب کسان زیر زمین باید داشت
ور آیینه وار نیک و بد بنمایي
چون آیینه روي آهنین باید داشت

د شعر او ادب لړۍ

[illegible]

سرود شهیدان

به خلد دلکشا از عالم دلگیر مي آییم
بکف این جان شیرین و به لب تکبیر مي آییم
کفن را لاله گون کرده ز خون سرخ خود، آخر
ز قربانگاه عشاقیم؛ به داغ تیر مي آییم
ز جام معرفت نوشیده ایم از باده، وحدت
رها از قید و بند و از غل و زنجیر مي آییم
نداي «ارجعي» بشنیده ایم از عالم بالا
سبك بالا نه سوي عرش از آن تأثیر مي آییم
همه همسنگر و همرزم و سرباز رسول الله
قضا را گفته لبیك و پي تقدیر مي آییم
بکام خود رسیدیم و شهادت شد نصیب ما
شهید غرقه در خونیم؛ به کف شمشیر مي آییم
به مرگ ما نباید جامه غم را به تن کردن
که فارغ از غم و رنجیم، بسان شیر مي آییم
شهید راه حق را نیست بیم از ورطه محشر
بسوي جنت و رضوان به این تعبیر مي آییم
پیام ما به ملت وحدت و راه شهیدان است
بخون خود نوشتیم رمز این تفسیر مي آییم

خوږې وینا وې

خوشحال بابا

یو د بل نه زده کړي د دنیا دودي
چې شاگرد نشي او استاد نشي سړي
زیوني به بې په دین کښې پیدا نشي
که زیون په اعتقاد نشي سړي
خواست دعا په آساني کله قبلیږي
د تقوي په کار چې داد نشي سړي
د زحمت علاج بې کله شیان کا
چه په آه او په فریاد نشي سړي
که په عمر صد ساله شي هم لا اوم دي
چې سیاح د هر بلاد نشي سړي
په اولاد کي بې اثر د اصل وشي
د بد اصلو دي داماد نشي سړي
که کوښښ کا په اخلاص زه بې ضامن یم
که کامران په خپل مراد نشي سړي
بهتري د خوي خصلت یې خوشحاله
خام طمع دي په نژاد نشي سړي

نعرهٔ مستانه

(ملا آغا «سالك»)

ما ملت ... پرکف، دلداده ی ایمانیم
در سنگر ... ، پروانه ی قرآنیم
با کفر ستیز داریم، با خنجر تیز داریم
ما حیثیت و ... داریم، دلباخته ی جانانیم
از یورش مردانه، اندر صف یارانه
با نعره ی مستانه رزمنده خروشانیم
دشمن شکنیم یکسر، واژگون شد استعمالگر
آزاد شد کشور، در معرکه قربانیم
شهکار جهانیم ما، با عشق جوانیم ما
چون آب روانیم ما، وارسته ی دورانیم
حق پویم و حق گویم، ... حق جویم
آیینه ی ... شهید ... چون ... شکفتانیم
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

په اسلامي نړۍ کې

د ساینس او تکنالوجي اوسنی او راتلونکی بهیر

لیکوال : د اسلامي نړۍ ساینس پوه داکتر عبدالقدیر خان

ژباړونکي : داکتر محمد نذیر «احمدزی»

دوهمه برخه

مسلمانانو ته له اوسني تیاري دوري څخه د وتلو او دیوه سر لوړي پسیا او عزتمند ژوند د موندلو په غرض د لاندي وړاندېزونو عملي کیدل گټور او ضروري بولم.

۱- د علم د زده کړي لمن دي پراخه شي او لیك لوست دي عام وگرځي که څه هم په ځینو اسلامي هیوادونو کي لکه مالیزیا چې په سلو کي اتیا تنه او اردن چې په سلو کي نوي تنه یې د سواد څښتنان دي د لیك لوست بهیر ډاډمن دي مگر په پاکستان، افغانستان، بنگله دیش او ځینو نورو هیوادو کي د تعلیم کچه په سلو کي له څلویښتو څخه هم کښته ده، دي هیوادو ته ښایي چې د تعلیم په ډگر کي پوره زیار وباسي، پر دیني او ابتدایي عصري زده کړو بر سیره ساینسي او تخنیکي زده کړو ته خاصه پاملرنه وکړي، حکومتونه باید د ساینسي علومو د زده کړي په خاطر پوره او حتي د غربي نړي په شان لگښتونه (بودجه) منظور کړي پاکستان د ټولي بودجي فقط ۲.۷ فیصده د ښوونې او روزنې لپاره مصرفوي دا ددي په خاطر چې د علم د زده کړي او ساینسي پر مختگ واټن یو څه اوږد دي او زموږ چارواکي په هغه لارو کي زیات مصارف کوي چې عاجلې گټې ورته برابروي، او له بل پلوه ساینس او تکنالوژي ته چندان ارزښت هم نه ورکوي (دا په دي چې بهرنیان دوي ته د تخنیك او تکنالوژي په ډگر کي تر خپلو وگړو لایقه او واده ښکاري ختي عصري علوم فقط د غیر اسلامي وگړو تخصص بولي او په دي هکله مسلمان پوهان ورته کمزوري بریښي) مترجم -

څرنگه چې د سیانس او تکنالوژي په ډگر کي د مصارفو نتیجه زر تر ژره نه تر لاسه کیږي نو زموږ سیاستمداران دا شان اوږد مهاله پرمختگ لرونکي پروژي چې په اصل کي د هیواد پر مختگ او سلامتیا په هغه پوري تړلي ده له خپلو سیاسي گټو قربانوي.

۲- په ساینسي ډگر کي د څیړنو پاخه مرکزونه باید جوړ شي، حکومت باید دي اړخ ته پوره پاملرنه وکړي، د ساینسي علومو پوهان او څیړونکي ونازوي، د هغوي د ژوند لگښتونه پوره ورته برابر او داسي فضا را منځته کړي چې ساینس پوهان فقط په دي سوج کي وي چې څنگه یو نوښت را منځته کړي او هیواد له سیالانو سره سیال کړي، په غربي نړي کي د کلني بودجي یوه برخه خاص د ساینس پوهانو لپاره جلا کیږي او هغوي ته زمینه مساعدوي چې فقط څیړنه وکړي او پر مختگ ته لاره هواره کړي، په هندوستان کي د ساینسي څیړونکو میاشتني تنخواه د نورو ځانگو په پرتله دري برابره ده. (زموږ په هیواد کي هم لازمه ده چې ژر تر ژره د ساینس او تکنالوژي د څیړنو یو مجهز مرکز جوړ شي، د هیواد نامتو ساینس پوهان په کي راغونډ او په دي هیله چې دغه ټولنه د اسلام او افغانستان د لوړتیا په خاطر څیړني او تحربي کوي چاروکي د هغوي ښه پلنه حیله ذمه واري ویولي او د ژوند ټولي ارتیاوي یې ور پوره کړي به یقین سره ویلاي شو چې زموږ میړني هیواد د علم او پوهي په ډگر کي هم داسي بچیان لري چې تر بل چا کم نه دي او امید شته چې انشاء الله ډېر ژر به گران افغانستان د پرمختگ لوړي لاري ته برابر کړي او په د کي توگه به پردیو دروازو ته له دریدو او غوښتنو څخه بې نیازه شو - مترجم)

۳- د اسلامي هیوادونو چارواکي باید دي خبري ته پام وکړي چې د ساینس او تکنالوژي په ډگر کي د دوي لگښتونه بې ځایه نه دي، که څه هم نتیجه یې یو څه وخت غواړي خو پایلي یې ډیري خوږي او گټوري دي. همدا اوس سعودي عربستان په کال کي پنځلس بلیونه دالره د اسلامي د پیرودلو په لار کي لگوي او دا لري له څو لسیزو را رواني ده که د هغوي چارواکي کم تر کمه شل کاله پخوا پرونتي مبلغ په خپل هیواد کي د ساینس څیړنو او پرمختگونو په لار کي مصرف کړي واي په یقین سره ویلاي شم چې نن به سعودي دومره پر مختللې [illegible] چې د کال به [illegible] د پنځلس بلیونو دالرو په ارزښت وسله پخپله تر استحصاله دوي پر ځاي چې دوي یې ډېرېږي په اوسني وخت کي د اسلامي هیوادونو د ساینس څیړونکو اړینکي ژر تر ژره باید سره ټینگي شي دیوه واحد وجود او تن په شان مسلمان ساینس پوهان یو بل ته د سرسختي او لاوړتیاوي لاسرې اوږده کړي او یو د بل له تجربو څخه گټې پورته کړي حتي د غیر اسلامي هیوادونو له ساینس پوهانو سره د مسلمانو ساینس پوهانو د اړیکو او لیدو کاتو لپاره باید لاره هواره شي مسلمان چارواکي باید دغه چاري خپل مسؤولیت وبولي او ژر تر ژره اقدام وکړي لوي او مهربان خداي«ج» ټول هغه امکانات او صلاحیتونه چې غربي انسانانو ته ورکړي [illegible] او ډېر یې مسلمانانو ته هم ورکړي، باید چې مسلمانان له دغه الهي نعمت څخه گټه پورته کړي، په اوسني حالت قناعت ونه کړي، هڅې بیل کړي، قرباني ورکړي، ستړتیاوي وگالي تر څو له کفارو سره د سیالي توان په ځان کي پیدا کړي هیلې هغه وخت تر سره کیدي شي چې د ساینس او تکنالوژي ډگر ته پوره او عاجله پاملرنه وشي او د ارزښت ور یې وبولي د اسلامي هیوادونو چارواکي په دي هکله ستر مسؤولیت لري او باید چې ادا یې کړي نو هیله شته چې زموږ د هڅو او حرکت په نتیجه کي د لوي خداي«ج» مرسته زموږ مله شي له سیالانو سره سیال او د روښانه راتلونکي څښتنان وگرځو او خپل راتلونکي نسل ته د کفارو له چوپړ او احتیاج څخه خلاصون ور په برخه کړو، په یقین سره الله«ج» د هغه قوم حالت نه بدلوي کوم چې په خپله د خپل حالت د بدلون تکل ونه کړي.

د اسلامي امارت چارواکي...

ولي په بشپړ تجرید کې شپې سبا کوي هیله لرو چې په دغه ولایت کې د اسلامي امارت کارکوونکي د خلکو د ستونزو او کړاوونو د لرې کولو په خاطر له هیڅ راز سرښیندنې او ځان تیریدنې نه ډډه ونه کړي .

چهار ماشین اره ...

ماشین این فابریکه قبلاً فعال گردیده و ماشین های اره که جدیداً فعال گردیده به مصرف بیست و دو هزار دالر ترمیم و به بهره برداري سپرده شده است .

این فابریکه در حال حاضر ۳۰ تا ۳۵ متر مربع سنگ هاي تعمیراتي پالش شده را به کیفیت بلند تولید مي نماید که بصورت بسیار نازل به بازار عرضه میگردد .

د افغاني سري میاشتې ...

مرسته وکړه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړې په هغې کتنه کې چې د افغاني سري میاشتې د عالي ټولنې د عمومي رئیس او سکرتر جنرال محترم حافظ سید عصمت الله عاصم پرون د آي.سي.آر.سي کمیټې له مرستیال او ددغې کمیټې د تخنیك او ترانسپورت له مسؤول سره وکړه د علاقې وړ مسألو په باب د خبرو په ترڅ کې د آي.سي.آر.سي کمیټې لخوا اړو کسانو ته د بشري مرستو د رسولو په مقصد له مربوطو لوازمو سره بې پنځه لارې موټرونه د افغاني سري میاشتې د عالي ټولنې په واك کې ورکړل شول چې ددغې ټولنې لخوا په کسور ودانۍ سره ومنل شول.

ما په افغانستان کې ...

عربستان کې مي کار کړي دي کوم محدودیتونه چې په افغانستان کې لیدل کیږي له هغو مقرراتو څخه چندان فرق نه لري چې په نورو اسلامي هیوادو کې نافذ دي زموږ خلك بې ځکه محدودیت بولي چې د امریکا له معیارونو سره فرق لري په سعودي کې هم ښځې حجاب اغوندي په حقیقت کې تعلیم نه بواحي د تجونو بلکه د مسلمانو لپاره هم له ستونزو ډك دي ځکه چې دلته ابتدایي ښوونځې ټول وران دي ډېري پیسې باید وې چې ښوونځي بیرته جوړ شي هغه زیاتوي مقاماتو دغه اراده څرګنده کړه چې ښځو ته به هم د تعلیم اجازه ورکړل شي په اطراقونو کې د سویډن د موسسې د احصایي له مخې اوس هم پنځلس تر شل فیصده نجوني ښوونځي ته ځي د کابل د طب پوهنځي محصلین ډېر لایقه معلومیدل موږ په دې کوښش کې یو چې د کابل له طب سره مرستې وکړو او په عصري تکنالوژي سمبال یو مرکز دلته جوړ کړو چې د مصنوعي سپوږمۍ له لارې به زموږ له پوهنتون سره ارتباط لري او زموږ د پوهنتون کتابخانې او نورو منابعو ته به دسترسي لري ، داکتره کارګین په پای کې وویل : ما ځان ته ثابته کړه اکثره هغه شیان چې مونږ په امریکې کې لوستلي ډېر منفي وو هغه درست نه وو په افغانستان کې د ښځو آینده ښه ده ، دلته اړتیاوي ډېري دي خو بواځې د ښځو نه دي نارینه او ماشومان هم همدا شان اړتیا وي لري ما هیڅ داسې څه ونه لیدل چې فکر وکړم له ښځو سره په دلته بده رویه کیږي . افغانان ډېر کلك او غیرتي خلك دي ما اوریدلي و خو لیدلي مي نه وو زه بې استقامت او حوصلې ته حیرانه یم. هغې په دې هیله چې غواړي د کابل له طب پوهنځي سره مرسته وکړي اوله امریکایي مطبوعاتو څخه هیله لري چې د افغانستان په هکله غلط تبلیغات نه کړي خپلې خبري پای ته ورسولې.

کار اعمار پارك تزئینی ...

خویش را که در نتیجه جنگ هاي ملیشه ها از دست داده بود دو باره کسب خواهد نمود.

اعمار مجدد تعمیر ...

مربوطه آن در اثر جنگ هاي ملیشه بي تا حدود زیاد تخریب گردیده آهن پوش دیپو ها ، سقف تعمیر عمومي ، دروازه ها و کلکین هاي آن همراه با قسمت زیاد تعمیر در اثر حریق و انفجار مرمي هاي ملیشه ها تخریب گردیده بود که الحمد لله با تأمین صلح و آرامش توسط امارت اسلامي ، در این اواخر کار اعمار مجدد آن دو باره آغاز گردیده و اخیراً به پایه اکمال رسیده و مورد بهره برداري قرار گرفت .

مصمم هستیم تا ...

یك تعداد پروژه هاي بزرگ و کوچك را زیر دست گرفته این موسسه در سال ۱۳۷۷ شش نفر انجنیران ورزیده خویش را بخاطر سروي و تمدید لین هاي کیبلي و نصب پایه هاي برق از فابریکه کجکي هلمند الي کندهار به ولایت کندهار اعزام داشته است همچنان چندي قبل با اعزام چند نفر انجنیران بخاطر سروي و امور ساختماني بند ولسوالي محمد آغه ولایت لوگر و نیز با سروي برق برخي از نواحي شهر کابل که به اثر جنگهاي گذشته کاملاً تخریب و از بین رفته بود پلان هاي خویش را جامه عمل پوشانیده است .

محترم مولوي محمد نعیم غفوري بخاطر بهبود و سعت کار موسسه خدمات انجنیري اضافه نمود ما بخاطر تطبیق پلانهاي خویش تصمیم داریم تا هر چه عاجلتر در اسرع وقت بکتعداد وسایل ماشین آلات تخنیکي موسسه خود را که در اثر جنگهاي گذشته تخریب و از بین رفته است ترمیم و طور جدي به کار و فعالیتهاي عملي خویش آغاز نمایيم.

د هیواد قدرمنو لیکوالو او فرهنګیانو !

شریعت اوونیزه د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتنې ، پالنې، او روزنې ټینګ او ډاډمن فرهنګي سنګر دي.

راځئ چې په خپلو قلمي لوریښو ، رغنده وړاندیزونو او پر ځای ګوت نیونو د اوونیزې منګیانګه لا پیاوړې او د ملي اسلامي ارزښتونو په وړاندې خپل مسؤولیت تر سره کړو .

اداره

هشت تن از اسیران ...

خبر داد : اسامیان مولا دادآغا فرزند سید مؤمن و عبدالولي فرزند سید علي باشنده کار ولسوالي دهراوود ولایت ارزگان ، گلاب گل فرزند شیر محمد مسکونه لایت لوگر ، حبیب الرحمن فرزند مولا داد باشنده ولسوالي جغتو ولایت میدان وردك حبیب الله فرزند عبدالرحمن مسکونه ولسوالي سنگین ولایت هلمند ، فیض الله فرزند ملك امان مسکونه ولایت هلمند قوماندان غلام سخي گردیزي فرزند میر محمد مسکونه ولایت پکتیا و عبدالله فرزند پیروز خان باشنده ولایت کابل که در زندان هاي مخالفین زنداني بودند توسط کمیته آي.سي.آر.سي با هفت تن از اسیران مخالفین تبادله گردیدند .

قرار است در آینده ...

مطالعات مقدماتي خویش در شبرغان و هرات معلومات ارائه نموده چگونگي تفحص و استخراج پطرول در آن ساحات را به ویژه در شبرغان صد در صد مؤثر خواند.

رئیس هیأت کمپني C.C.C به خبرنگار شریعت گفت: نتایج به دست آمده از مطالعات و آگاهي هاي ما در مورد تفحص و استخراج پطرول به همان اندازه که به زودي انجام گرفت امیدواریم به زود ترین فرصت جهت عملي را به خود گرفته و قرار است در آینده نزدیك در ساحات مورد نظر به کار خویش آغاز نماییم.

هیأت مذکور که به اساس پروتوکول قبلي في مابین وزارت معادن و صنایع و کمپنی C.C.C اخیراً وارد کشور گردیده و ضمن بازدید از ولایات هرات، جوزجان و سرپل مطالعات مقدماتي را در ساحات نفت خیز کشور انجام داده که در آینده نزدیك مورد بهره برداري قرار خواهد گرفت که این خود یك گام مفید و مؤثري از سوي امارت اسلامي تدر جهت ارتقا و بهبود سطح اقتصاد کشور خواهد بود.

هیأت متذکره ضمن بازدید از ساحات مورد نظر از استقبال مقامات امارت اسلامي و مردم افغانستان اظهار خرسني نموده اطمینان داد که آغاز کار آنان منتج به نتایج ثمر بخش خواهد گردید.

اهالي متدین ولسوالي ...

عظیم الشأن که در قطعه منتظره ولسوالي یکاولنگ به اشتراك محترم الحاج غلام محمد هوتك سرپرست قطعه منتظره یکاولنگ ، محترم استاد اکبري ، محترم سید صوفي گردیزي ، استاد باظل ولسوالي حصه اول بهسود ، حسین علي خان ولسوال یکاولنگ ، موسفیدان، قوماندانان و اهالي ولسوالي یکاولنگ صورت گرفت ضمن ختم قرآن عظیم الشأن سخنرانان اهداف امارت اسلامي را که در جهت تأمین آرامش و رفاهیت مردم و جامعه اسلامي صادر تداوم است بیان داشته از خداوند بزرگ و بي نیاز استدعا نمودند تا عوامل جنگ در کشور هر چه زود تر به نابودي گراید و صلح سرتاسري و امنیت کامل در کشور استقرار یابد.

جریان برق در ساحه ...

فعالیت منسوبین ریاست برق ولایت هلمند اخیراً شبکه برق ساحه بولان لشکرگاه که از مدت بیست سال به اینطرف از فعالیت باز مانده بود دو باره احیا و با نصب یك پایه ترانسفارمر جریان برق تأمین گردیده و مشکلات اهالي آن ساحه از ناحیه برق مرفوع گردیده است .

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

روزانه ۲۲۰۰ طفل در امریکا مفقود میگردند

رئیس مجلس ملي اطفال مفقود شده در امریکا اعلام کرد روزانه دو هزار و دو صد طفل در امریکا مفقود میشوند مسؤولان تعلیم و تربیه امریکا در مجلس روز گذشته خود اعلام کردند در حال حاضر دو هزار و دو صد طفل در ایالت لیفون نا پدید هستند که این رقم نمونه دو هزار و دو صدطفلي هستند که روزانه در ایالات متحده امریکا مفقود الاثر میگردند در این مجلس تاکید شده است که از تمام اطفال گم شده باید عکس تهیه شود و در اختیار عموم قرار بگیرد زیرا یك طفل از هر هفت طفل گمشده توسط عکس پیدا میشود.

تلاش به خاطر ویتامین دار ساختن شکر

کشور زمبیا براي مقابله با امراض و مریضي هاي خطر ناکي ناشي از کمبود ویتامین اي به اجراي طرحي در ویتامین دار کردن قند و شکر مصرفي مردم پرداخته است از جمله عوارض کمبود ویتامین اي شبکوري و افزایش مریضي هاي عفوني است و حتي در مواقعي موجب مرگ انسان میگردد شاید مصرف یك قاشق شکر ویتامین دار در یك گیلاس چاي در روز براي مقابله با مریضي ناشي از کمبود ویتامین اي در این کشور تا حد قابل ملاحظه یي کاسته خواهد شد.

شرکت تولید قند و شکر در زمبیا اخیراً به شکري که تولید میکند مقدار بسیار کم ویتامین اي تا اندازه یي که بتواند از اثرات ناشي از کمبود ویتامین جلوگیري کند مي افزاید مشکل اصلي که کمبود ویتامین اي بوجود مي آورد کاهش توانایي بدن در مقابله با مریضي هاي عفوني است مریضي هاي عفوني مثل سرخکان و اسهال از اندوخته ویتامین اي در بدن انسان به مقدار زیادي مي کاهد البته در برخي از کشور هاي جهان پوگرام ویتامین دار کردن بعضي از مواد غذایي با موفقیت همراه بوده است ولي این کار پیدا کردن مواد غذایي مناسب براي افزودن ویتامین ها به آن هاست لازم است که این مواد غذایي ارزان باشد و به اساني بتوان آن ها را ویتامین دار کرد و مصرف آن ها نیز با آساني انجام بگیرد به همین دلیل است که کشور زمبیا تصمیم گرفته است که قند و شکر را ویتامین دار کند چون این ماده غذایي در سراسر کشور تا دور ترین نقاط مصرف عادي دارد فقط در مورد ویتامین اي از یك جهت باید دقت کرد و آن اینکه اگر مقدار مصرف آن از حد معین بالاتر برود میتواند ایجاد مسمومیت کند اما مقدار ویتامین که به شکر افزوده میشود به اندازه کم است که مصرف آن به هیچ وجه باعث مسمومیت نمي شود و تنها تاثیري که خواهد داشت که این خواهد بود که اندازه سالمتي مردم در سراسر کشور افزایش خواهد یافت و این کار براي کشور هایي که کمبود ویتامین اي براي شان محسوس و نگران کننده باشد کار ساده و در عین حال بسیار سودمند خواهد بود.

په کوسووا کې د صربي قواو بریدونه تر اوسه هم دوام لري

د یوګوسلاویا د پارلمان لخوا د کاسووا د سولې د طرحې له تصویب سره سره د البانیایي توکمو په لیکو باندې د صربیانو بریدونه او د شمالي اتلانتیك د سازمان د الوتکو لخوا د صربیانو د سنګرونو بمباري دوام لري. د ناتو الوتکو تیره شپه د کاسووا په څو ښارګوټو کې د صربي پوځونو سنګرونو بمباري کړل په دغو بریدونو کې صربي ځواکونو او تجهیزاتو ته زیات تاوانونه اوښتي دي. د ناتو مقاماتو اعلام کړیدي چې د صربیانو په سنګرونو باندې د بریدونو له امله تر اوسه پورې د صربي ځواکونو کابو لس زره تنه افراد وژل شوي او یا ټپیان شویدي.

دغه راز رارسیدلي رپوټونه وایي چې صربي ځواکونو تیره شپه د البانیې په سرحدي سیمو باندې د توپونو ډزې کړیدي او دغې سیمې ته یې زیات تاوانونه اړولي دي.

لبناني مجاهدینو په اسرائیلي پوځي اوو بریدونه وکړل

د لبنان د حزب الله د سازمان مجاهدینو ددغه هیواد په جنوب کې د اسرائیلي اشغالګرانو اود صهیونست حکومت د ګوډاګیانو په سنګرونو باندي بریدونه وکړل.

دغه سازمان د یوې وینا په ترڅ کې اعلام کړیدي چې دغه بریدونه د لبنان د جنوب په کلیو باندې د اسرائیلو د برغ د ډزو په ځواب کې وشول چې له دې امله د اسرائیلو د حکومت دوه اړې او یوه ګزمه ویشتل شویدي او د رادارو یو مرکز او د اسرائیلو یو پوځي سنګر ویجاړ شو .

مخکې له دې د اسرائیلو توپچي پوځ د لبنان د جنوب شپږ کلي او د اقلیمو التحفه لوړي برخې بمباري کړي وي .

ټینګ او ډیر ویشیدلي چاي د حافظې د کمزورۍ سبب ګرځي

د مصر په یوه پوهنتون کې علمي څیړنې ښیي چې په ایشیدلي او ټینګو چایو کې زیاته اندازه المونیم شته چې دا په خپله په مغزو او عصبي دستګاه باندې خطرناکې اغیزې لري او په نیتجه کې د حافظې د له لاسه ورکولو سبب کیږي .

د مصر د اټومي انرژي د مرکز یوه غړي په دې باب وویل : د السونیم د مادې زیاتوالی د سرطاني سلولونو له ودې سره مرسته کوي. د وینو غوړوالي لوړوي او دشکر د ناروغۍ سبب کیږي . ده د ټینګو چایو د څښلو پلویانو ته توصیه وکړه چې په ورځ کې له یوه ګیلاس نه زیات ټینګ چاي استعمال نه کړي .

تبصره

جهانیان باید اظهارات منابع آزاد و بیطرف جهاني در امور افغانستان را بپذیرند

با ... امارت اسلامي افغانستان بر اکثریت گروه هاي شرارت پیشه طرفدار ... و حامیان ... تجزیه و تقسیم افغانستان در کشور، بعضي از حلقات جهاني ... از جهات عقیدوي، سیاسي، اقتصادي و فرهنگي با تحکیم نظام اسلامي در افغانستان داشتند دست به تبلیغات پوچ و زهراگین بر علیه امارت اسلامي افغانستان زده و از باعث اینکه وسایل مجهز و متنوع تبلیغاتي در اختیار دارند توانستند تا اذهان بعضي از جهانیان را در رابطه به امارت اسلامي افغانستان مغشوش ساخته و افکار برخي از جهانیان را بر علیه امارت اسلامي افغانستان تحریك نمایند گرچه این پروسه براي چند ... الحمد لله با سفر هاي متواتر شخصیت هاي علمي، فرهنگي، اقتصادي و سیاسي بعضي از کشور هاي جهان به افغانستان و ... واقعیت هاي موجود در افغانستان ... مطروحه دشمنان امارت اسلامي افغانستان ... تبلیغات زهراگین آرزو داشتند تا جلو ... و حمایت جامعه جهاني از امارت اسلامي افغانستان را بگیرند، نقش ... ساخته و جهانیان ... را در روشني حقایق و واقعیت هاي موجود در افغانستان قرار دادند ... تا اکنون چنین واقع نشده که هیئت رسمي و یا شخصیت هاي علمي و سیاسي آزاد کدام کشور خارجي که از افغانستان دیدن بعمل آورده ... که قبل از آمدن به افغانستان در نتیجه تبلیغات ... در سلسله هیئت ها و شخصیت هاي جهاني که از افغانستان دیدن نموده اند فقط به اظهارات اعضاي هیئت ... ایالات متحده امریکا که از نظر جهانیان و مردم امریکا از هر ... اشاره نموده و با آنهایکه آگاهانه یا نا آگاهانه بر خلاف نظام اسلامي در افغانستان تحرکات مخالفت آمیز مي نمایند در ...

[illegible]

... عظیمي که ملت مجاهد ما ... امپراطوري کمونیزم تقدیم داشته است، ... بازسازي ... و اعمار مجدد کشور ما کوشیده و در این راه از بذل ... دریغ ... خواهد بود که جهانیان دانشمند ... را به بدي و دشمني اداء ننمایند!!!

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb
Editor: Mula Asadullah Hanifi
Peshawar Tel # 84550
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press